# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر اوومه | ۵۹۱یمه ګڼه


## ولایت


۴ مخ

### جوزجان

جوزجان د پوهنې په برخه کې د ځينو نورو ولايتونو په نسبت مخکښ دی، تېرو څو کلنو تېل شوو جګړو د دې ولايت پوهنيز سيستم ته زيان نه دی رسولی او په ټولو ولسواليو کې يې ښوونځي فعال دي.



## کرنې ریاست: روان کال په هلمند کې د خرما ۲۵ جریبه نوي سوداګریز بڼونه جوړېږي



د هلمند د کرنې او مالدارۍ رييس زلمی الکو وايي، چې د خرما بڼونو د ترويج په پار سږکال په ياد ولايت کې د خرما ۲۵ جريبه سوداګريز بڼونه او کليکسيون جوړېږي.

هغه وايي چې د خرما بڼونو جوړولو لپاره د ځمکې جوړولو او چمتووالي چارې پيل شوې چې ډېر ژر به پکې رسماً د نيالګيو اېښودلو لړۍ پيل شي. د نوموړي په خبره، دغه بڼونه په ياد ولايت کې د خرما د بڼونو جوړولو د ترويج او پراختيا په پار جوړېږي.

په ورته وخت کې کرنې وزارت وايي چې د دوی له پروګرامونو څخه يو هم د خرما ونو پالل، روزل او بڼوالو ته پېژندل دي. د دغه وزارت د چارواکو په وينا، په همدې موخه يې بڼوالو ته د خرما ونو د کرکېلي لارې چارې هم ښودلې دي.

په دې وروستيو کې د هېواد په ګرمو ولايتونو؛ هلمند، فراه، کندهار، لغمان او ننګرهار کې خرما ښه حاصلات ورکړي او له همدې کبله يې د بزګرانو پام هم ځانته اړولی دی.

# د طالبانو نوی مذاکراتي پلاوی؛

## شنونکي: نوی پلاوی هم صلاحیت لري او هم به له قوي موقف مذاکرات مخ ته یوسي



۳

### د طالبانو نوی پلاوی او د سولې پر خبرو یې اغېز

۲ مخ

### بین الافغاني خبرې اترې او د سولې راتلونکې

۲ مخ

### د ژوند اصلي مانا څه ده؟

۳ مخ

## سپېدار: د مصالحې عالي شورا د رهبرۍ غړو نوملړ به ډېر ژر اعلان شي

د ملي مصالحې عالي شورا وايي، چې د دې شورا مشر عبدالله عبدالله د شورا د رهبرۍ غړو د ټاکلو لپاره مشورې پيل کړي او ډېر ژر به يې نوملړ وروستی شي.

د دې شورا وياند فريدون خوځون ويلي چې د مصالحې عالي شورا د سولې پروسې مسووليت او مديريت پر غاړه لري او په وينا يې، په دې برخه کې کومه ستونزه نشته.

هغه زياته کړې: «د ملي مصالحې د رهبرۍ په نوملړ باندې کار روان دی، ډېر ژر به نهايي شي او تر هغه وروسته به اعلان شي.»

دا په داسې حال کې ده چې روانه مياشت د ولسمشر غني لخوا د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ملي مصالحې عالي شورا د غړو لېست اعلان شو.

د ارګ په اعلاميه کې راغلي چې دا شورا په هېواد کې د سراسري سولې په اړه د ملي اجماع د رامنځته کېدو او د هغه سياسي توافق پر اساس جوړه شوې چې د ولسمشر غني او پخواني اجرائيه مشر عبدالله تر منځ شوی و.

ارګ دې شورا ته د ۴٦ کسانو نومونه لېږلي وو او د ملي مصالحې عالي شورا ته يې يوه اونۍ وخت ورکړی چې د شورا د عمومي مجمع د غړو لېست نهايي کړي، خو عبدالله عبدالله تېره اونۍ وويل چې د ملي مصالحې عالي شورا ايجاد د يادې شورا د رييس له صلاحيتونو څخه دی.

## د سولې وزارت: د بین‌الافغاني خبرو د پیل لپاره د طالبانو چمتووالی لاهم نه دی بشپړ شوی



۳ مخ

## وزارت مالیه: بانک ملی افغانستان و نوی کابل‌بانک با هم مدغم می شوند




وزارت مالیه می گوید که بانک ملی افغانستان و نوی کابل‌بانک با هم مدغم می شوند. شمروزخان مسجدی، سخنگوی وزارت مالیه به رادیو آزادی گفته است که در این مورد نشستی هم برگزار شده است.

وی همچنین افزوده است که در این نشست عبدالهادی ارغندیوال سرپرست وزیر مالیه، اجمل احمدی سرپرست د افغانستان بانک، احمد جاوید رسولی رئیس احصائیه مرکزی، و روسای کابل‌بانک و بانک ملی و نماینده‌های اداره امور ریاست جمهوری اشتراک کرده بودند.

وی افزوده است: «اداره احصائیه مرکزی افغانستان به اساس حکم رئیس جمهور سیستم‌های تخنیکی هر دو بانک را بررسی کرده است. چگونگی و ظرفیت‌های هر دو بانک شناسایی شده و طرح آن نیز آماده شده است.»

آقای مسجدی می‌گوید، در این نشست هر دو طرف برای مدغم شدن هر دو بانک آمادگی نشان داده‌اند. به گفته وزارت مالیه، همچنین فیصله شده است که پس از اخذ نظریات ریاست جمهوری در باره این طرح مشوره فنی با شرکای بین‌المللی افغانستان بخصوص صندوق بین‌المللی پول و بانک جهانی صورت خواهد گرفت.


این در حالیست که قبل از این بخاطر فساد گسترده بر این ادارات نیز انتقاد های صورت گرفته است.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## درېځ

# د طالبانو نوی پلاوی او د سولې پر خبرو يې اغېز

طالبانو د بین الافغاني خبرو لپاره نوی ۲۱ کسیز پلاوی ټاکلی چې مشري یې شیخ عبدالحکیم کوي او عباس ستانکزی به د دې ټیم مرستیال وي. په ټیم کې یوازې قطر میشته طالبان نه، بلکې د طالبانو د رهبرۍ شورا مهم غړي هم شامل دي.
اوس پوښتنه دا ده چې طالبانو ولې نوی پلاوی اعلان کړ او دا بدلون به د سولې پر خبرو څه اغېز ولري؟
د امریکا او طالبانو تر منځ خبرې د طالبانو لپاره د داسې خبرو لومړۍ تجربه وه. له بله اړخه له امریکا د طالبانو او له طالبانو د امریکا غوښتنې هم واضح وې، طالبانو په دې اړه سرې کرښې لرلې او خبرې هم تر ډېره سیاسي او ډیپلوماتیکې وې، نو ځکه مذاکراتي ټیم هم تر ډېره سیاسي او ډیپلوماتیک ټاکل شوی و. اوس چې بین الافغاني خبرې دي، متفاوت موضوعات به پکې مطرح کېږي؛ د نظام له ډول نیولې تر اساسي قانون، اوربند، لنډمهالي حکومت، د طالب جنګیالو تر برخلیک او نورو موضوعاتو پورې په هر څه بحثونه کېږي، نو ځکه همداسې یوه ټیم ته اړتیا وه چې پر دې هر څه پوه وي او د بحث وړتیا ولري.
له بله اړخه په بین الافغاني خبرو کې د طالبانو له هرې کتهګورۍ څخه باید کسان وي، څو له یوه اړخه د ټولو طالبانو دریځ منعکس شي او له بله اړخه د دوی د داخلي ستونزو سبب هم نه شي. تر دې ور هاخوا داسې یوه ټیم ته اړتیا وه چې تر ډېره پورې د پرېکړو صلاحیت ولري او په مذاکراتو کې وروستۍ خبره هم وکړلی شي. د همدغو دلایلو پر اساس طالبانو په پلاوي کې بدلون راوستلی دی او نوی، پیاوړی او با صلاحیته ټیم یې ټاکلی دی.
اوس چې طالبان له یو داسې ټیم سره خبرو ته داخلېږي، نو نه یوازې دا چې په خبرو کې به پیاوړي وي، بلکې هڅه به کوي چې پر مقابل لوري خپلې غوښتنې هم ومني. د شیخ عبدالحکیم په شان ارام او عالم کس په طبیعي ډول نه یوازې پر خپل ټیم، بلکې پر مقابل ټیم هم اغېز پرېباسي او د طالبانو د بریا چانس ډېروي. اوس که د طالبانو نوی ټیم له کابل څخه له ورتلونکي ټیم سره مقایسه شي، نو ښکاري چې توپیر ډېر زیات دی او په طبیعي ډول دا ټیم د طالبانو تر سیوري لاندې راځي او د هغوی ډېرې غوښتنې به مني .
د طالبانو له اړخه د با صلاحیته ټیم ټاکل یو مثبت ګام دی، خو اوس اړتیا ده چې حکومت لومړۍ خبرې پیل کړي او بیا وروسته نه یوازې دا چې یو وړ ټیم وټاکي، بلکې باید صلاحیتونه هم ورکړي چې د سولې په برخه کې پرمختګ ته لاره هواره کړي. تمه ده چې د طالبانو له اړخه به د شیخ عبدالحکیم په مشرۍ ټیم د سولې د بریا لپاره زغم، حوصله او ګذشت وکړي او حکومتي پلاوی به هم ورته عمل وکړي. اوس د نرمۍ وخت دی او دواړه لوري باید تر وروستي حده نرمي وکړي او ټول تمرکز یې باید د سولې د خبرو پر کامیابۍ او پرمختګ وي.

# بین الافغاني خبرې اترې او د سولې راتلونکی

لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د امریکا او طالبانو تر منځ د شوې هوکړې له مخې ټاکل شوې وه چې د روان کال مارچ میاشتې په لسمه نېټه بین الافغاني خبرې اترې پیل شې؛ مګر د دواړو لورو لخوا د ټاکل شوي شمېر بندیانو د نه خوشې کېدلو له امله چې د بین الافغاني خبرو اترو پر وړاندې بنسټیز شرط او خنډ و، یادې خبرې اترې تر دې دمه وځنډول شوې.
افغان دولت د سپټمبر میاشتې په دویمه نېټه اعلان وکړ چې د طالبانو پاتې بندیان یې له خپلو زندانونو آزاد کړي او یوازې اووه تنه بندیان چې د فرانسې او استرالیا حکومتونو پرې ځینې ملاحظې لرلې، چې ګواکې هغوی د یادو هېوادونو د عسکرو په وژلو تورن پېژندل شوي، ښایي قطر هېواد ته هم ولېږدول شي. دوحه کې د بین الافغاني خبرو اترو پیل کېدو او هغو مواردو په اړه مو د CSRS په دې تحلیل کې شننه کړې، چې د بین الافغاني مذاکراتو په ترځ کې به تر بحث لاندې نیول کېږي.

### زندانیان او بین الافغاني مذاکرات

په دوحه کې د فبرورۍ په ۲۹مه لاسلیک شوې هوکړې له مخې باید بین الافغاني مذاکرات په خپل وخت پیل شوي وای. دا چې د زندانیانو موضوع د بین الافغاني خبرو اترو پر وړاندې یو بنسټیز خنډ ګڼل کېده، د دواړو لورو لخوا د یاد خنډ له منځه تلل د افغان سولې په برخه کې یو ښه پرمختګ دی، چې د سیمې هېوادونو په ګډون برېټانیې، جرمني او امریکا ورځنې ښه هرکلی کړی دی.
د افغان سولې په برخه کې د امریکا ځانګړي استازي ښاغلي زلمي خلیلزاد د زندانیانو خوشې کولو په تړاو ویلي، چې افغانان تر بل هر وخت د سولې طلايي فرصت سره مخ شوي او باید ګټه ترې پورته کړي. د افغان حکومت له لوري د روغې جوړې شورا مشر ډاکټر عبدالله عبدالله د ټولو زندانیانو د ژر خوشې کېدلو په تړاو څرګندونې او همدارنګه د حکومت او طالبانو له لوري د بین الافغاني مذاکراتو د ژر تر ژره پیل کېدو په تړاو څرګندونې ښیي، چې رښتیا هم افغانانو تر بل هر وخت د سولې لپاره یو ښه فرصت تر لاسه کړی او باید دا فرصت غنیمت وګڼل شي څو تلپاتې سولې ته د رسېدو لاره هواره کړي.

### د دوحې تړون او بین الافغاني مذاکرات

د دوحې تړون له مخې امریکا ژمنه کړې چې په راتلونکو ۱۴ میاشتو کې به په افغانستان کې له پنځو اډو څخه خپل ټول فوځیان وباسي. که څه هم تر هوکړې وروسته ځینې امریکايي فوځیان له افغانستان څخه وتلي هم دي، د سپټمبر په درېیمه نېټه د امریکا دفاع وزیر وویل چې په نږدې راتلونکي کې به خپل نور درې زره فوځیان هم له افغانستان څخه وباسي. که د امریکا له لوري د فوځیانو وتلو لړۍ په همدې شکل دوام پیدا کړي او تر ټاکل شوې مودې یاد هېواد خپل فوځیان له افغانستان څخه وباسي، نو د افغان شخړې پای ته رسېدو په برخه کې به تر ټولو لوی پرمختګ تر لاسه شوی وي. که څه هم د امریکا ولسمشر د فوځیانو ویستلو په اړه شین څراغ ښودلی او ویلي یې دي چې په امریکا کې تر ټاکنو وړاندې به په افغانستان کې د خپلو فوځیانو شمېر له پنځو زرو ۴۵۰۰ پورې راکم کړي؛ خو د امریکا دفاع وزارت (پنټاګون) ښايي په دې اړه متفاوت نظر ولري او په دې اړه څرګندونې له وخت مخکې کار بولي.

### اوربند او بین الافغاني مذاکرات

د شوې هوکړې له مخې، طالبانو ژمنه کړې چې د بین الافغاني مذاکراتو په لړ کې به د اوربند په هکله له افغان لوري سره خبرې کوي. په داسې حال کې چې د دواړو لورو لخوا تقریباً ټول زندانیان خوشې شوي، خو لا هم د هېواد په کچه جګړو زور اخیستی او دواړو خواوو ته پکې درانه ځاني تلفات اوړي.
د زندانیانو د وروستۍ جوپې تر خوشې کېدو یوه ورځ وروسته په ننګرهار، بغلان، سرپل او ځینو نورو سیمو کې د دواړو لورو تر څنګ ملکي وګړو ته تلفات رسېدلي دي. د یو منظم میکانېزم له لارې د اوربند پلي کېدل کولی شي د سولې په برخه کې د سبوتاژ کوونکو ډلو مخه تر ډېره ډب کړای شي. که چېرته اوربند پلی نه شي، ښايي هغه داخلي او بهرنۍ کړۍ چې نه غواړي د هغوی ګټې د افغان سولې راتګ سره له منځه ولاړې شي، د سولې پر وړاندې خنډونه ایجاد کړي. د بېلګې په توګه، ښايي په ښارونو کې د تاوتریخوالي پېښې ډېرې شي او یا هم د ټولنې مطرح سیاسي څېرې په نښه او له منځه یوړل شي، چې په دې کار سره د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د باور فضا له منځه تللی شي؛ نو ځکه د باور فضا ساتلو لپاره اوربند د یو حتمي او بنسټیز شرط په توګه باید وټاکل شي، څو د نورو خنډونو پیدا کولو مخه ونیول شي.

د مذاکراتي پلاوو پېژندنه او پرتله

د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د افغان حکومت له لوري شل کسیز هیئت ټاکل شوی دی، چې د علماوو، سیاسي احزابو، ځوانانو، ښځو او مدني ټولنو غړو ته پکې ځای ورکړل شوی دی. په دې پلاوي کې ځینې داسې کسان هم ګډون لري چې د سولې او لویو ملي قضایاوو په برخه کې ښايي کافي تجربه ونه لري؛ خو بیا هم افغان حکومت تمه ښیي چې دا پلاوی به وکولی شي د ولس غوښتنو ته په پام د سولې په برخه کې ښې لاسته راوړنې ولري. ځکه د دې پلاوي مشري د ښاغلي معصوم ستانکزي پر غاړه ده، هغه څوک چې په تېرو څو کلونو کې یې په لوړو حکومتي څوکیو کار کړی او د کافي تجربې خاوند هم دی. که څه هم د حکومت له لوري په مذاکراتي پلاوي کې د سیاسي احزابو انډول ته هم تر یوې اندازې پاملرنه شوې ده، خو بیا هم د حزب اسلامي په ګډون ځینې سیاسي ګوندونه څرګندوي چې هغوی به له طالبانو سره په مخامخ خبرو اترو کې هم ګډون وکړي، چې دا کار بیا نه یوازې د پلاوي شتون او واک تر پوښتنې لاندې راولي، بلکې په کور دننه د سولې په اړه د پراګنده او تیتو نظرونو ښکارندويي هم کوي. د دې لپاره چې په کور دننه د سولې په اړه واحد نظر پیدا شي، اړینه ده څو افغان حکومت د ټولو مطرحو سیاسي څېرو، د قومونو استازو او علمي شخصیتونو سره د سولې په برخه کې له نږدې کار او د هغوی ملاتړ خپل کړي.
د ښاغلي معصوم ستانکزي په مشرۍ د افغان حکومت پلاوي غړي دا دي: ذکیه وردګ، شهلا فرید، محمد ناطقي، نادر نادري، عبدالمتین بیګ، باتور دوستم، خالد نور، شریفه زرمتۍ، رسول طالب، ایوب انصاري، کلیم الله نقیبي، امین احمدي، عبدالهادي ارغندیوال، حبیبه سرابي، عنایت الله بلیغ، حفیظ منصور، زینب مؤحد، ضرار احمد مقبل او غیرت بهیر.
بلخوا د طالبانو په شل کسیز مذاکراتي پلاوي کې تر ډېره د طالبانو د تحریک لوړ پوړي چارواکي ځای لري. د طالبانو په مذاکراتي پلاوي کې د هغوی د شورا ۱۳ غړي هم ځای لري او دا بیا د دې څرګندويي کولی شي چې یاد مذاکراتي پلاوی تر ډېره د واک خاوند هم دی.
د ښاغلي مولوي عبدالحکیم په مشرۍ د طالب پلاوي غړي دا دي: شیر محمد عباس ستانکزی، مولوي عبدالکبیر، مولوي نور محمد ثاقب، ملا محمد ذاهد احمدزی، ملا شیرین اخوند، ملا عبدالطیف منصور، قاري دین محمد، ملا عبدالسلام حنفي، ملا عبدالمنان عمري، شیخ محمد قاسم ترکمن، ملا محمد فاضل مظلوم، ملا نورالله نوري، ملا عبدالحق وثیق، مولوي مطیع الحق خالص، محمد نعیم وردګ، ملا محمد نبي عمري، انس حقاني، خیرالله خیرخوا، مولوي شهاب الدین دلاور او ملا فرید.

د بین الافغاني مذاکراتو لپاره لو مړ یتو بو نه

موقت حکومت، د نظام شکل، ولسي جرګه او ښه یې، مشرانو جرګه او ښه یې، ولایتي او ولسوالیو شوراګانې، د ښاروالیو ټاکنې، د عامې روغتیا، پوهنې او لوړو زده کړو په ګډون بیارغونه، دولتي ادارو کې د ښځینه وو کار، د بیان آزادي، د دیني علماوو علمي رتبې تثبیت او معادله، د اوبو مهارول، برق، ګاز، سوداګري ووده او ځینې نور هغه موارد دي که د بین الافغاني مذاکراتو په ترځ کې تر بحث لاندې ونیول شي، ښايي زیات وخت ونیسي. پر همدې بنسټ دواړه خواوې باید هڅه وکړي څو هغه موارد د بېلګې په توګه مخدره مواد، سرتاسري امنیت، په نظام کې ملي مشارکت، اداري فساد، شفافیت او حساب ورکونه چې افغان ولس په اغېزناکه توکه ژر تر ژره له سولې سره یو ځای کولی شي، تر بحث لاندې ونیسي. ځکه دا هغه موارد دي چې د افغانستان امنیت، ټولنیز ثبات او اقتصادي پرمختګ ګواښي او له دې پرته نړیواله ټولنه هم په دې برخه کې افغان چارواکي هڅوي، څو په دې اړه لازم ګامونه پورته کړي. خو تر دې وړاندې د سرتاسري اوربند پلي کېدل کولی شي د یادو مواردو پر وړاندې لوی خنډ له منځه یوسي. که چېرته اوربند دوام پیدا نه کړي، ښايي د سولې اوسنی فرصت د افغانانو له لاسه ووځي.
اړینه ده څو د سیمې هېوادونه د افغانستان د ښو ګاونډیانو په توګه د سولې د دې تاریخي فرصت په برخه کې د افغان ولس ترڅنګ ودرېږي؛ ځکه په افغانستان کې تلپاتې سوله نه یوازې د افغانستان؛ بلکې د سیمې د اقتصادي پرمختګ او سوکالۍ لامل هم ګرځېدلی شي.

## مشرانو جرګه: حکومت د سولې پروسې د مدیریت توان نه لري، د امریکا د فشارونو له مخې پرېکړې کوي

د مشرانو جرګې غړو د اوړي له رخصتۍ وروسته په لومړنۍ ناسته کې د سولې په اړه د حکومت پر کړنو پر نیوکې سربېره وویل چې د سولې په لاس راغلی فرصت باید ضایع نه شي او د دغو خبرو لومړنۍ اجنډا باید اوربند وي.
په جرګه کې د غزني د خلکو استازي محمد رحیم حسنیار وویل: «دواړه خواوې باید د نظر توافق ولري، څو څلوېښت کلنه جګړه پای ومومي او اوربند د مذاکراتو لومړنۍ اجنډا وي.»
د مشرانو جرګې منشي عبدالله فرلق د بندیانو خوشې کولو ته په اشارې وویل: «هغه څه چې طالبانو غوښتل ترسره شول، د خلکو استازي اوربند غواړي، د دواړو خواوو مذاکرتي پلاوي باید د خلکو غوښتنو ته احترام وکړي او له مذاکراتو مخکې اوربند تامین کړي.» هغه وایي چې طالبان د دې پرځای چې نرمښت وښیي، تاوتریخوالی یې ډېر کړی دی.
د مشرانو جرګې بلې غړې کلالۍ اکبري وویل: «د جمهوریت د نظام ساتل، د ښځو حقوق او اوربند د مذاکراتو لپاه شرط دي او په مذاکراتو کې باید دغه دواړه اړخونه د خلکو غوښتنو ته پام وکړي.»



د مشرانو جرګې رییس فضل هادي مسلمیار د بین الافغاني مذاکراتو پر ژر پیل د ټینګار او د مذاکراتو د اجنډا د مشخصولو تر څنګ، وویل چې د خبرو له پیل وړاندې باید اوربند تامین شي.
په مشرانو جرګه کې د نیمروز د خلکو استازي محمد نادر بلوڅ د سولې په اړه د حکومت پر کړنو نیوکه وکړه، ویې ویل: «د حکومت کړنې نور زموږ لپاره د منلو نه دي، حکومت د سولې د بهیر د مدیریت توان نه لري او ډېر مهال پر خپلو شخصي کارونو بوخت دی.» د هغه په خبره، حکومت د سولې په اړه پرېکړې د امریکا او نړیوالې ټولنې د فشارونو پراساس کوي.
د یادې جرګې بل غړي زلمي زابلي هم وویل چې حکومت د سولې د بهیر د مدیریت توان او مشخص پروګرام نه لري. د هغه په وینا، د ملي مصالحې د عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله باید دغې جرګې ته را وغوښتل شي، څو د سولې پروګرام له ملت سره شریک کړي.

# د طالبانو نوی مذاکراتي پلاوی؛

## شنونکي: نوی پلاوی هم صلاحیت لري او هم به له قوي موقف مذاکرات مخ ته یوسي



د طالبانو نوی مذاکراتي ټیم له پوره صلاحیت او قوي موقف برخمن دی. د چارو شنونکي او د افغان سولې بهیر ته نږدې سرچینې وایي، د طالبانو په مذاکراتي ټیم کې نوي بدلونونه د پام وړ دي. دوی زیاتوي چې طالبانو نږدې ٦٥ سلنه مذاکراتي ټیم بدل کړی او په دې توګه هڅه کوي د اختلافاتو مخه ونیسي او نوی ټیم به له خورا پیاوړي موقف په مذاکراتو کې ګډون کوي. د طالبانو پخوانی غړی او اوس د سولې د برخې فعال اکبر اغا بیا وایي چې د طالبانو د مذاکراتي ډلې نوی مشر له پوره صلاحیت برخمن دی.

وروسته له هغې چې طالبانو د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره چمتووالی وښود، نو په لومړي ګام کې یې خپل نوی مذاکراتي ټیم اعلان کړ. د نوي مذاکراتي ټیم مشري مولوي عبدالحکیم حقاني کوي چې د طالبانو په لیکو کې له پوره نفوذ برخمن دی. هغه له کلونو راهیسې په پاکستان کې دیني مدرسې لري، د اسلامي حکومت په اصولو پوهېږي، د طالبانو د مشر ملا هبت الله نږدې کس دی، له قوي استدلال برخمن دی او د طالبانو ټول اړخونه پوره باور ورباندې لري.

ویل کېږي چې د طالبانو د مذاکراتي ټیم د بدلولو موخې ګڼې دي. لومړی دا چې مذاکراتي ټیم باید تر پخوا با صلاحیته شوی وای، نوی ټیم باید له دیني او مذهبي اړخه له قوي استدلال برخمن وي، پر نظام او راتلونکي حکومت د بحث پوره وړتیا ولري او د طالبانو په لیکو کې د اختلافاتو د مخنیوي سبب شي.

د چارو شنونکي هم پر دې باور دي چې د طالبانو له نوي پلاوي ښکاري چې دغه ډله به له قوي موقف په بین الافغاني خبرو کې ونډه اخلي. د افغانستان د ملي امنیت پخوانی رییس رحمت الله نبیل وایي، له څه مودې راهیسې د طالبانو په لیکو کې له امریکا سره د سولې پر سر اختلافات رامنځ ته شوي وو، چې ښایي نوی پلاوی د دغو اختلافاتو د ختمېدو سبب شي.

د ده په خبره: ((بې له شکه په وروستیو څو میاشتو کې د طالبانو په مشرتابه کې اختلافات پیدا شوي او اوس به هم وي، خو یو محاسبه شوی لېست چې په وروستیو شپېو کې وړاندې شو، د دې ښکارندویي کوي چې طالبان غواړي له یوه قوي موقفه خبرو ته کېني)).

بلخوا د مولوي عبدالحکیم منیب په اړه ویل کېږي چې هغه د طالبانو په لیکو کې د دیني استدلالونو لپاره تر ټولو پیاوړی سړی دی او له امریکا سره د طالبانو د مخامخ مذاکراتو د پیلېدو فتوا هم ده ورکړه. د طالبانو پخوانی غړی سید اکبر اغا وایي، د ملا عبدالحکیم په مشرۍ نوی ټیم به پوره صلاحیت ولري او د سولې چارې به په ښه توګه پرمخ بوځي. د ده په خبره: ((مولوي عبدالحکیم یوه مستدلل سړی دی، هغه به د سولې خبرې په ښه توګه پر مخ یوسي، زه یې پېژنم، د ډېرو طالب مشرانو استاد تېر شوی دی)).

بلخوا طالبان هم وایي چې نوی ټیم یې قوي او غښتلی دی او نه یوازې دا چې د بحث پر مهال به پوره صلاحیت ولري، بلکې له خورا پیاوړي موقف به په خبرو کې ونډه واخلي. دغه راز له قطر څخه وروستي راپورونه وایي چې د طالبانو سیاسي څېرو په دوحه کې ناسته کړې او په دغه ناسته کې ډاکټر محمد نعیم وردګ او د مذاکراتي ټیم نوی مشر ملا عبدالحیم رسماً پر دندو ګومارل شوي دي. طالبانو دغه راز په دې غونډه کې د سولې لپاره پر خپلو راتلونکو پلانونو او موخو هم خبرې کړې دي.

طالبانو داسې مهال د بین الافغاني مذاکراتو لپاره نوی پلاوی ټاکلی او مذاکراتو ته بشپړ چمتووالی ښیي چې لا هم د افغان چارواکو ترمنځ اختلافات موجود دي. تېره ورځ هم مسیر ورځپاڼې ته د چارو یو شمېر څارونکو ویلي وو چې دغه اختلافونه به د مذاکراتو پر مېز د افغان حکومت د دریځ د کمزورۍ کېدو او د طالبانو د پیاوړي کېدو سبب شي.

## راپورونه: تېره یوه میاشت د افغان سېکانو او هندوانو ۱۵۰ کورنۍ د امنیتي ګواښونو له امله هند ته تللي

د راپورونو له مخې، په تېره یوه میاشت کې له افغانستان نه د افغان سېکانو او هندوانو ۱۵۰ کورنیو هند ته د امنیتي ګواښونو له امله پنا وړې ده.

په ولسي جرګه د سېکانو استازی نرېندر سېنګ خالصه ازادي راډیو ته ویلي، چې اوسمهال یوازې ۲۰۰ سېکان او هندوان په افغانستان کې پاتې دي.

هغه زیاته کړې: «موږ په تېرو ۱۸ کلونو کې حکومت ته ډېرې چیغې وکړې، خو دوی زموږ غږ وانهورېده، دا لامل شو چې افغان سېکان او هندوان هند ته پناه یوسي، په تېره یوه میاشت کې ۱۵۰ کورنۍ هند ته تللي دي او اوس شاید ۲۰۰ کسان پاتې وي چې هغوی هم افغانستان پرېږدي.»

خالصه وایي، چې د هند حکومت دغو کورنیو ته د شپږو میاشتو لپاره موقتې ویزې ورکړې او دوی هلته په درمسالونو کې ژوند کوي.

نوموړی زیاتوي، د افغان سېکانو او هندوانو پاتې کورنۍ هم د خپلو شتمنیو د پلور په حال کې دي او هند ته د تګ لپاره چمتووالی نیسي. دا په داسې حال کې ده چې تازه هندي رسنیو هند ته د افغان سېکانو او هندوانو د ۲۰۰ کورنیو د رسېدو خبر ورکړی دی. له دې وړاندې هم د دې لړکیو کورنیو د امنیتي ګواښونو له کبله افغانستان پرېښی و.

په ورته وخت کې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت بیا د دې لړکیو د امنیت د ټینګښت خبره کوي. د یاد وزارت ویاند طارق ارین وایي: «د افغان سېکانو او هندوانو د امنیت په برخه کې زه دومره وایم چې موږ له دوی سره له نږدې په اړیکه کې یو، زموږ ډاډ دا دی چې دوی به خوندي شي، موږ یو ځل بیا ټینګار کوو چې نه یوازې د دغه لړکیو، بلکې د ټولو افغانانو خوندي ساتل زموږ لپار لومړیتوب لري.»

د خالصه په خبره، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د دې لړکیو شمېر شاوخوا ۱۰ زره کورنیو ته رسېده، خو د وخت په تېرېدو سره دغه شمېر اوس ۲۰۰ کسانو ته رانښکته شوی دی. دا په داسې حال کې ده چې د وري په شپږمه په کابل کې د افغان سېکانو او هندوانو پر یوه درمسال د داعش وسلهوالې ډلې لهخوا برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲۷ کسه مړه او لسګونه نور ټپیان شول.

په ولسي جرګه کې د دې لړکیو استازی وایي، افغان سېکانو او هندوانو نور ولایتونه پرېښي او اوس یوازې په کابل او ننګرهار کې اوسېږي.

## د سولې وزارت: د بین‌الافغاني خبرو د پیل لپاره د طالبانو چمتووالی لاهم نه دی بشپړ شوی

افغان حکومت وایي، د بین‌الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره د طالبانو چمتووالی لاهم نه دی بشپړ شوی.

تمه وه چې پرون (یکشنبه) د افغان حکومت مرکچي پلاوی قطر ته تللی وای، خو د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي، د بین‌الافغاني مذاکراتو د پیل لپاره د افغان پلاوي ټولې تیارۍ بشپړې شوي او کله چې په دې ډاډه شول چې طالبان د خبرو لپاره چمتو دي، قطر ته به سفر وکړي.

د دغه وزارت ویاندې ناجیې انوري ویلي: «د مذاکراتو د پیل لپاره ځینې مسایل شته چې مقابل لوری یې باید په اړه اماده ګي ولري، زموږ مالومات دا دي چې مقابل لوری همدا اوس په دې مسایلو بحثونه کوي، زموږ غوښتنه هم دا ده چې باید مقابل لوری ژر تر ژره خپل مسایل وروستي کړي، بله مهمه مسئله دا ده چې زموږ نړیوال همکاران او کوربه هېواد هم په ځینو مسایلو بحثونه کوي چې دا مسایل حل شي، نو زموږ پلاوی به قطر ته سفر وکړي.» دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د افغانستان د ملي مصالحې عالي شورا ویلي وو چې د بندیانو د خلاصون پروسه بشپړه شوې او د مذاکراتو د پیل پر وړاندې هېڅ خنډ نه دی پاتې.


د دواړو لورو ترمنځ د بندیانو د تبادلې د بهیر له بشپړېدو وروسته ټاکل شوې وه چې د افغان حکومت مذاکراتي پلاوی د تېرې پنجشنبې په ورځ قطر ته سفر وکړي، خو ظاهراً دا سفر تر دې دمه ځنډېدلی دی.

د ملي مصالحې په عالي شورا کې یوې سرچینې بیا د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډیو ته ویلي چې د طالبانو د قطر په دفتر کې د خپلمنځي اختلافاتو له امله دغه ډله لا هم د بین‌الافغاني مذاکراتو د پیل په اړه هوکړې ته نه ده رسېدلې.

دا په داسې حال کې ده چې طالبانو تېره ورځ د خپل مذاکراتي پلاوي په ترکیب کې بدلون اعلان کړ او د هغوی د ۲۱کسیز مذاکراتي پلاوي مشري مولوي عبدالحکیم حقاني ته وسپارل شوه. له دې وړاندې په دوحه د طالبانو د سیاسي دفتر مرستیال شېر محمد عباس ستانکزي ویلي وو چې دی به له حکومت سره په خبرو کې د طالبانو د پلاوي مشري کوي.

بلخوا د ملي امنیت پخوانی رییس رحمت‌الله نبیل هم وایي، چې د طالبانو په رهبرۍ کې د واک پر سر اختلافات رامنځته شوي، خو د ده په وینا، په پلاوي کې وروستی بدلون یې په خبرو کې د یو قوي موقف پیغام ورکوي. هغه زیاتوي: «بې له شکه په وروستیو څو میاشتو کې د طالبانو په مشرتابه کې اختلافات پیدا شوي او اوس به هم وي، خو یو محاسبه شوی لېست چې په وروستیو شپېو کې وړاندې شو، د دې ښکارندوی کوي چې طالبان غواړي له یو قوي موقفه خبرو ته کېني.»

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې له ۲۷ میلیونو او د مړو شمېر یې له ۸۸۴ زرو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۲۷ میلیونو واوښتې. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۸۸۴ زره او ۵۲۹ کسان مړه شوي او له ۱۹ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې شپږ میلیونه او ۴۳۲ زره او ۲۰۹ ته رسېدلي او تر دې مهاله یې ۱۹۲ زره او ۸٦۴ امریکایان مړه کړي دي.

له امریکا وروسته هند د څلور میلیونه او ۱۳۱ زره او ٦۹۰ مثبتو پېښو او ۷۰ زره او ۸۰۲ مړو له کبله د نړۍ دویم، برازیل د څلور میلیونه او ۱۲۳ زره مثبتو پېښو او ۱۲٦ زره او ۲۳۰ مړو له اړخه دریېیم، روسیه د یو میلیون او ۲۵ زره او ۵۰۵ مثبتو پېښو په درلودو سره څلورم او پېرو د ٦۸۳ زره او ۷۰۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د یاد ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز کولمبیا، جنوبي افریقا، مکسیکو، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

د هند د روغتیا وزارت پرون ناوخته اعلان وکړ چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې په دغه هېواد کې ۹۰زره او ٦۳۲ کسان پر کرونا ویروس اخته شوي چې په خبره یې، دا د کرونا په تاریخ کې تر ټولو لوړ ریکارډ دی.

د هغه په خبره، په یاده موده کې دومره ډېر کسان د نړۍ په هېڅ هېواد کې تر اوسه د کرونا پر ویروس نه دي اخته شوي. د امریکا د جان هاپکېنز پوهنتونو د معلوماتو له مخې، هند د کرونا ویروس د مثبتو پېښو له اړخه له امریکا او برازیل وروسته په نړۍ کې دریېیم هېواد دی. د یادونې ده چې کرونا ویروس د لومړي ځل لپاره تېر کال د ډسمبر په میاشت کې په چین کې خپور شو، خو د روغتیا نړیوال سازمان وایي چې اوس دا ویروس د نړۍ شاوخوا ۲۰۰ هېوادونو او سیمو ته خپور شوی دی.

یاد سازمان همداراز غوښتنه کړې چې د دغه ویروس پر ضد جوړ شوی واکسین دې ژر تر ژره وروستی شي، ترڅو نړۍ د کرونا له ګواښ څخه وژغورل شي.

## د کتــاب خبــري

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل

### دڅېړنې کلیات




اوسمهال د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې په اړه د عادي افغانانو ترمنځ بې باورۍ زیاته شوې له سیاسي خبرو سره د سیمه‌ییزې همکارۍ د یو ځای کولو او د سولې له پروسې څخه د افغانستان د گاونډیو هېوادونو د ملاتړ په صورت کې په افغانستان کې دایمي سولې ته زمینه برابریدلای شي. د پانگونې په تړاو سیمه‌ییزو واقعي لومړیتوبونو ته د پاملرنې په صورت کې به د افغانستان گاونډي دولتونه او د هغوی خصوصي سکتور دا درک کړي چې د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې زیاتې اقتصادي گټې ترلاسه کولای شي، د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د سولې خبرو بریالیتوب د افغانستان د گاونډیو هېوادونو د اقتصادي گټو د خوندیتوب لپاره مهم گڼل کېږي .

پانگونه او اقتصادي وده د نویو دندو د پیدا کېدو او اقتصادي ودې لپاره زمینه برابروي او د سیمې د اوسېدونکو د عوایدو د زیاتېدو سبب کېږي، د نویو دندو پیدا کېدل او د خلکو د عوایدو د کچې زیاتیدل په سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت لپاره مهم گڼل کېږي او د حکومت له مشروعیت سره مرسته کوي له همدې امله د افغان حکومت لپاره ډېره مهمه ده چې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا له لارې د پانگونې لپاره زمینه برابره او نوي سوداگریز شریکان پیدا کړي .

افغانستان په کور دننه له گڼو ستونزو سره مخامخ دی، د قانون نه حاکمیت، کمزوری صنعت او د بشري سرچینو کمښت د دې سبب شوي چې له یوه لوري د افغانستان دولت ونه شي کولای عامه خدمات خلکو ته په ښه شکل وړاندې کړي او له بل لوري د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان د اقتصادي نړیوالي مخه نیسي . د افغانستان حکومت د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنگي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ستونزې او نیمگړتیاوې لري، نه شي کولای چې په سمه او اغېزمنه توگه عامو خلکو ته عامه خدمات وړاندې کړي د افغانستان ډېری سیمې بریښنا نه لري، ډېر سړکونه خام دي او یاهم معیاري نه دي جوړ شوي، مالي خدمات کمزوري دي، د کرنې په برخه کې د پام وړ پرمختگ نه دی شوی، د عوایدو راټولولو په برخه کې ستونزې او نیمگړتیاوې موجودې دي، د روغتیا، ښوونې او روزنې په برخو کې ستونزې شته، افغانستان په ډېرو برخو کې مسلکي کارگران نه لري، د عوایدو ټیټه کچه، کمزوری صنعت او خصوصي سکتور، بېکاري، د څښلو اوبو ته عدم لاسرسی، د تعلیم ټیټه کچه او بیسوادي، په ټولنیزو او اقتصادي برخو کې د مېرمنو کمزوری حضور، پر حکومت د خلکو بې اعتمادي، د قانون نه حاکمیت، بې ثباتي، جگړه او ناامني هغه ستونزې دي چې افغانستان ورسره مخامخ دی او د افغانستان حکومت نه شي کولای په یوازې ځان پورتنۍ ستونزې حل کړي له همدې امله د افغانستان مشران هڅه کوي چې د پورتنیو ستونزو د حل لپاره د سیمې د هېوادونو مرسته او همکاري ترلاسه کړي، ځکه چې د افغانستان ستونزې یوازې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا له لارې حل کېدای شي .

د ۲۰۰۲ زکال د ډسمبر پر ۲۲مه افغانستان له خپلو شپږو گاونډیو هېوادونو تاجکستان، چین، ایران، پاکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره د ښه گاونډیتوب اعلامیه لاسلیک کړه، په یاده اعلامیه کې د افغانستان د گاونډیو هېوادونو مشرانو ټینگار کړی و چې افغانستان حق لري سوله، ثبات، نېکمرغي، ځمکنۍ بشپړتیا، ډیموکراسي او بشري حقوق یې خوندي واوسي، له پورتنۍ اعلامیې سره سره د افغانستان د یو شمیر گاونډیو هېوادونو او د سیمې د یو شمیر هېوادونو ترمنځ اختلافونو په افغانستان کې د ثبات د ټینگښت مخه ونیوله خو د افغانستان مشران په دې وتوانیدل چې د اسیا په زړه کې د افغانستان مرکزیت ته د گاونډیو هېوادونو او سترو قدرتونو پاملرنه راواړوي او د سیمه‌ییزې همکارۍ په برخه کې د افغانستان جیو ایکونومیک ارزښت نړیوالو ته څرگند اوښکاره کړي. د افغانستان مشرانو هڅه کوله چې خپل هېواد د سیمه‌ییزو قدرتونو د تقابل پرځای د سیمه‌ییزو همکاریو په میدان بدل کړي، له همدې امله د سیمه‌ییزې اقتصادي همکارۍ پراختیا د افغانستان د بهرنۍ سیاست مهمه برخه جوړوي د افغانستان مشران په دې اند دي چې د رقابتي پالیسیو پرځای د همکارۍ پالیسیو تعقیب به د سیمې د هېوادونو ترمنځ د کړکیچ له کمېدو سره مرسته وکړي . **دوام لري...**

# جوزجان

حشمت الله نوري



جوزجان په شمال زون کې یو له مهمو ولایتونو څخه دی، چې په دویمه درجه ولایتونو کې راځي. له ترکمنستان او ازبکستان سره گډ پوله لري. دا ولایت د گازو پراخه زېرمې او خورا تاریخي مخینې په درلودو سره په ۳٦،٦٦۵ عرض البلد او د طول البلد په ٦۵،۷۵۲ درجو کې پروت دی.

د سمندر له کچې یې لوړوالی ۳۸۰ متره او تر ټولو لوړه برخه یې د درزاب ولسوالي ده، چې د سمندر له سطحې نه ۱۱۷۰ متره لوړوالی لري، خو د خماب ولسوالۍ یې د سمندر له سطحې تر ټولو ټیټه ساحه گڼل کېږي، چې د سمندر له سطحې څخه ۲۵۳ متره لوړوالی لري.

جوزجان د کابل شمال ته په ۵۵۵ کیلومترۍ کې پروت دی او د دې ترڅنگ په ختیځ کې له بلخ، په لوېدیځ کې له فاریاب او په سوېل کې له سرپل ولایت سره گډه پوله لري.

د دې ولایت پراخوالی ١٤٦٦٦ کیلومتره مربع اټکل شوی او د وگړو شمېر یې د شوي احصایې پر بنسټ څه باندې ۵۰۰ زره تنه ښودل شوی.

جوزجان د اقلیم له اړخه په دوبي کې ډېر گرم، خو په ژمي کې سوړ دی. په دوبي کې د دغه ولایت د گرمۍ درجه تر ٤٦ پورې رسېږي، خو په ژمي کې یې د یخنۍ درجه له ۲۰ تر ۲۵ پورې ښکته راځي، د هوا دغه بدلونونه د دې ولایت په ټولو برخو کې یو ډول دي.

ولسوالۍ:

دغه ولایت د اداري وېش له مخې، په ۱۱ اداري واحدونو وېشل شوی، چې د مرکز شبرغان په گډون له خماب، قرقین، اقچه، مردیان، فیض اباد، منگجیک، خانقاه، خواجه دوکوه، قوش تپې او درزاب ولسوالیو څخه عبارت دی.

د جوزجان ډېری اوسېدونکي له ترکمن او ازبک قومونو څخه تشکیل شوي، خو تر څنگ یې تاجک، پښتانه، هزاره، عرب، سادات، قزاق او ځینې نورې محدودې کورنۍ لکه پشه یان، جوگیان، نورستانیان، ایماق، قرغز او بلوچ هم په کې مېشتې دي، خو بیا هم ازبکان او ترکمنان د دې ولایت د اوسېدونکو اکثریت جوړوي.

د اوبو بندونه:

په جوزجان کې د اقچې او سرپل په نوم د اوبو دوه بندونه شته. دا بندونه د فیض اباد ولسوالۍ او سرپل-شبرغان لویې لارې په اوږدو کې موقعیت لري، سره له دې چې د وروستیو وچکالیو له امله د دغو بندونو اوبه وچې شوي، خو بیا هم ترې کروندگر په پراخه پیمانه استفاده کوي او زیاتې ځمکې یې پرې خړوب کړې دي.

کلتور:

په دغه ولایت کې فرهنگي هڅې په ۱۳٤۰ لمریز کال کې د ډیوې په نامه اونیزې په خپرېدو او د دولتي مطبعې په فعالیدو سره رسماً پیل او چټکې شوې. د جوزجان تېر تاریخ ته په پام سره دغه ولایت د هېواد له لرغونو ولایتونو څخه شمېرل کېږي.

اوسمهال په دغه ولایت کې د ملي ټلوېزیون تر څنگ، نور خصوصي ټلوېزیونونه هم فعالیت لري. اشراق فرهنگي ټولنه، دژورنالیستانو ملي ټولنه، د ظهیرالدین محمدبابر ټولنه، د مخدوم قلي فراغي ټولنه، راه نو ټولنه، د سینماگرانو ټولنه، د ښوونکو ټولنه، د متقاعدینو ټولنه، د هنرمندانو ټولنه، د شهیدانو اومعلولینو ټولنه، د ښځو د سوکالۍ ټولنه، د راه سبز فرهنگي ټولنه او د قوش تپې د دغه ولایت له فعالو مدني بنسټونو څخه دي، چې کله کله په خپلو اړوند چارو کې بېلابېلې غونډې جوړوي.

د ولسمشر حامدکرزي د حکومت په راتگ سره د دغه ولایت ډېرو ځوانانو مطالعې ته مخ کړه او په دې ولایت کې پرعامه کتابتون سربېره، د اطلاعاتو او فرهنگ کتابتون، د ځینو ښوونځیو او لوړو زده کړو د موسسو کتابتونونه هم فعال او د مطالعې وړ دي.

پر کتابتونونو سربېره، ډېری کورسونه هم د خطاطۍ او مسلکي ژورنالیزم په اړه فعال دي، چې د زده کوونکو شمېر یې سلگونو کسانو ته رسېږي.

تاریخي ابدات:

طلا تپه، یمشک تپه، د شبرغان بالاحصار، د حضرت ابن یمین شبرغاني مزار، د اقچې بالاحصار او د چغچي تاریخي کلا پاتې شونې ټول هغه څه دي، چې د دغه ولایت لرغونتوب ثابتوي.

طلا تپه د شبرغان ښار په پنځه کیلومترۍ کې موقعیت لري، چې د ۲۲ زرو طلایي کشف شوو اثارو په درلودلو سره د نړۍ بې ساري لرغونی اثر گڼل کېږي.

د طلا تپې د کشف څرنگوالی:

د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد د لرغون پېژندونکو یوه گډ پلاوي، د باختر د تاریخي او لرغونو سیمو د پېژندنې لپاره ډېرې پلټنې کړې دي.

دغه پلاوي خپل لومړی کار په ۱۹٦۹ زیږدیز کال کې د شبرغان ښار په پنځه کیلومترۍ کې پیل کړ. پلاوي په دغه ساحه کې خپلو پلټنو ته پوره لس کاله دوام ورکړ او د ۱۹۷۹ کال په مني کې یې بشپړې کړې. دوی د خپلو لس کلنو پلټنو په ترځ کې وتوانېدل، چې اوه قبرونه کشف کړي، چې د وخت د کمښت له امله یې یوازې شپږ وکیندل شول.

د دغو قبرونو د پلټنې په پایله کې د طلا خزانې هم کشف شوې، چې تاج، قوچ، ملابند، غوږ والۍ ، شلشه ، سکې، پښو بندونه یا پای زېبونه، شنگوله، بشقاب، د سینگار صندوقچې، پوښ لرونکی مرتبان، د عاج شانې، د لاس لرگی، طلایي ملابند، د خنجرطلایي پوښ او د تورې طلایي قبضه په کې شامل دي.

په دغو توکو کې د نورو څېزونو ترڅنگ د یادو شوو جسدونو له جامو او نورو توکو له هرې جوړې څخه له۲۵۰۰ نه تر ٤۰ زرو پورې د سرو زرو ټوټې کارول شوې دي.

د طلا تپې له ساحې پرته، چې په ۱۳۵٦ او ۱۳۵۷ لمریز کال کې چې په کوشاني عصر پورې تړلې، له ۲۲ زرو څخه زیاتې طلایي ټوټې لاس ته راغلې، گڼې نورې داسې تپې هم شته، خو له طلا تپې پرته نورې تر علمي پلټنو او څېړنو لاندې نه دي نیول شوې.

د دې ترڅنگ په دغه ولایت کې د حضرت ابین یمین شبرغاني مدرسه، د ابوسلمان جوزجاني مدرسه، عزیزان جومات او مدرسه او په منگجیک ولسوالۍ کې د علم لیک بابا زیارت او خانقاه هغه دیني اماکن دي، چې د جوزجان د خلکو علمي او فرهنگي مخنیه وړاندې کوي.

مشاهیر:

د جوزجان تاریخي او لرغوني ولایت په تېر او اوس کې ډېر مهم ټولنیز، علمي او سیاسي شخصیتونه لري، چې د هېواد په سطحه یې په اړونده برخو کې خدمت کړی دی.

پوهنه:

جوزجان د پوهنې په برخه کې د ځینو نورو ولایتونو په نسبت مخکښ دی، تېرو څو کلنو تېل شوو جگړو د دې ولایت پوهنیز سیستم ته زیان نه دی رسولی، په ټولو ولسوالیو کې ښوونځي فعال دي او په دې برخه کې کومه ستونزه نه تر سترگو کېږي.

د دغه ولایت په کچه څه باندې ۳۷۵ ښوونځي فعال دي، چې ۳ په کې انسټیټیوټونه او یوه هم د ښوونکو روزنې موسسه ده، چې د ٤۲ نجونو په شمول په کې له ۱۷۵ زرو زیات زده کوونکي د څلور زره ښوونکو لخوا روزل کېږي .

د جوزجان پوهنتون هم په ۱۳۸۰ لمریز کال تاسیس شوی او اوسمهال د ښوونې روزنې، اقتصاد، ساختماني انجنیرۍ، کمپیوټر ساینس، ټولنیزو علومو، کیمیاوي ټکنالوژۍ، جیولوجي او کانونو په برخه کې په لوړه کچه محصلین لري، چې ٤۰ سلنه یې نجونې دي.

طبیعي سرچینې :

په جوزجان کې له ١٤۰ زیاتې د طبیعي گازو ځاگانې شته، چې د پخواني شوروي اتحاد د یرغل پر مهال کیندل شوې، خو په ۱۳٦۰ لمریز کال کې یې د خپل تگ پر مهال بېرته ډکې کړې دي.

اوسمهال څه باندې ۳٦ ځاگانې فعالې دي، چې په شبرغان کې د څلورو زرو کورنیو، د ښښتو او چونې پخونې په بټیو کې ترې کار اخیستل کېږي.

صنعت:

په دغه ولایت کې له کلالۍ او پوستین گنډنې پرته، مسگري، زرگري، د غالۍ، ټغر او لمڅي اوبدنه او خامک گنډنه هم دود ده او یو زیات شمېر صنعتکاران پرې بوخت دي.

د غالۍ او ټغر اوبدنې صنعت تر ډېره د اقچې، منگجیک، مریدان، فیض اباد، قرقین، خماب او خواجه دوکوه ولسوالۍ په خلکو پورې تړل کېږي، چې ډېری ښځې یې ورباندې بوختې او د خپلې کورنۍ اقتصادي ستونزې له دې لارې حل کوي. د دې ولایت د اقچې غالۍ خورا مشهورې دي، دا مطلع چې وایي: «بیا بریم اقچه، قالین ببافیم تخته تخته) د دې ولسوالۍ د غالیو په لرغونتیا دلالت کوي. دا غالۍ هم د نورو هغو غونډې بهر ته صادرېږي.

د خامک گنډنې صنعت هم په پاس یادو شوو ولسوالیو کې دود دی او د کلیو ښځې په دستمال، څادر، جامو، د سر شالونو، خولیو او یخنونو په جوړولو بوختې دي، که څه هم تر اوسه ورته کوم بهرنی بازار نه دی موندل شوی، خو د سیمې په بازارونو کې څلېدلي دي.

کلالي هم د دغه ولایت له لاسي صنایعو څخه شمېرل کېږي، چې د ابو مسلم خراساني د سطلنت له مهاله دوده وه.

د دې تر څنگ، مسگران او پښان هم په دې ولایت لوښي او د کرنې وسایل جوړوي، چې په دې توگه یې خپل پخوانی وضعیت خوندي کړی دی. خو د صنعت وضعیت له تېرو دریو لسیزو راهیسې ورو ورو خرابېږي او خپل ارزښت له لاسه ورکوي.

کرنه :

جوزجان ولایت د پراخه کرنیزو زېرمو په درلودلو سره د هېواد له کرنیزو ولایتونو څخه یو دی، چې او یا سلنه خلک یې پر کرنه او مالدراۍ بوخت دي.

د دغه ولایت په مربوطاتو کې ۲۱۵ هکټاره کرنیزه ځمکه شته، خو دا چې فاریاب کرنیزې سرچینې نه لري، نو د ځمکو یوه زیاته برخه یې هم له کر څخه پاتې کېږي.

د دغه ولایت د کرنیزو اوبو سرچینې په بلخ او سرپل ولایتونو کې دي، چې له همدې امله د اقچې، مردیان، خانقاه، فیض اباد او منگجیک ولسوالیو کروندگر د نهر بلخ له هژده سیند او د دوکوه او شبرغان د ځینو کلیو کروندگر د سرپل له اوبو گټه اخلي. سره له دې چې په دغه ولایت کې غنم، وربشې، جوار، زغیر، باجر، نخود، زیره او نور کرل کېږي، ۲٤ ډوله انگور هم په کې شته چې بېلابېل نومونه لکه تور کشمش، سپین کشمش، حسیني، چال سفید، چال قره، تایفي، شورتاک، تور خلیلي، سپین خلیلي، علمن ویدي، ات ایمچک، شهابي سفید، عاقلي، خرمایي، گردک، لعل یکدانه، پسته نفیس، حارجي فخري، جنتي، هاب، قزل هابک، مسکه یي، شهابي سیاه، شکر انگور او نور نومونه پرې اېښودل شوي او د پالیز او بڼوالۍ له اړخه ښه نوم لري.

اوسمهال د دغه ولایت عمده صادراتي توکي پر کرنیزو توکو سربېره له غالیو، گیلم، هینگ، شیرین بویې، قره قل پست او وحشي مرخېړیو څخه جوړ شوي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶،۲۰ |
| € | ۸۹،۳۰ |
| Rp. | ۴۵۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۹۹،۵۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د ژوند اصلي مانا څه ده؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ژوند باید مانا ولري. که چېرې یو څوک هڅه وکړي څو خپلو موخو ته ورسېږي او په خپل دغه کار کې بریالی هم شي، له شک پرته چې خپلې موخې ته له رسېدو وروسته به په زړه کې وایي چې: «ډېر ښه، زه خپلې موخې ته ورسېدم، خو له دې وروسته به څه کېږي؟ په زړه کې به شکمن او دوه زړی شي او وایي به چې: «یوازې همدومره؟!»

لکه څنګه مې چې مخکې هم څو ځله ویلي دي، د یوې موخې له ټاکلو څخه زموږ مقصد یوازې هغه موخې ته رسېدل نه دي، بلکې زموږ مقصد باید هغه څه یا څوک وي چې د همدغه موخې د لاسته راوړو په ترڅ کې پرې بدلېږو او په پای کې باید احساس وکړو هغه څه یا څوک چې له موږ څخه جوړ شوی دی، د مانا او مفهوم لرونکی دی.

په تېرو څو ورځو کې ما د څو تنو برېتانیایي خبریالانو او د مجلو، ورځپاڼو او مهالنیو له راپور ورکوونکو سره مرکې وکړې. زما لپاره ډېره د خوښۍ وړ وه چې د هغوی خبرو ته غوږ ونیسم او د هغوی په هېواد کې زما د شتون په اړه د هغوی پر نظرونو پوه شم. په یوه مصاحبه کې یو خبریال له ما څخه وپوښتل: «تاسو ولې دا ډول کارونه تر سره کوی؟ ایا په رښتیا باور لرئ چې ژوند یوه مانا او مفهوم لري؟!»

که رښتیا ووایم، لومړی مې فکر کاوه چې دغه کس له ما سره ټوکې کوي، خو وروسته پوه شوم چې هغه ډېر جدي و. له غرور څخه په ډکه لهجه یې د ژوند په اړه د منفي او تنګ نظر له مخې خبرې کولې او ویل یې چې ډېری برېتانویان ورته نظر لري. ډېره حیرانوونکې وه چې دغه کس خپل نظر له ډېرو نورو سره ورته ګڼلو او نور کسان یې هم په خپل دغه نظر کې شریک بلل. له ژوند څخه د هغه خبریال کس منفي اخذ او تنګ نظر دومره پیاوړی و، چې له خبرې څخه یې درد او غم له ورایه ښکارېدل، په واضح توګه د پوهېدو وړ وه چې دغه کس له خپل ژوند څخه هېڅ خوند نه اخیست. له دې امله چې په ژوند کې یې ځینې بدې پېښې لیدلې وې، دې پایلې ته رسېدلی و چې ګواکې ژوند هېڅ مانا نه لري. د هغه په فکر ژوند یوازې دا و چې یو کس یوه موده ژوند کوي او وروسته مړ کېږي، یوازې همدومره!

زه په هېڅ صورت دا ډول نظر نه منم او زما شخصي باور دا دی چې موږ له یو ټاکلي ځای څخه راغلي یو او یو ټاکلي ځای ته روان یو. البته کېدای شي چې ونه شو کولای هغه ځای په ښکاره توګه مشخص کړو، خو باید باور ولرو او پوه شو چې دلته زموږ اوسېدل هرو مرو یو لامل لري. له دغه لامل پرته د ژوندي اوسېدو، له خوب څخه د وېښېدو او د کارونو د تر سره کولو لپاره به هېڅ انګېزه نه وي.

د هغه خبریال ژوند د هغه د وېرو تر چتر لاندې و. کله یې چې خپل منفي لیدلوری بیاناوه، په اصل کې هغه دا چیغې وهلې چې: «زه په خپلو هیلو او موخو پسې له تګ څخه وېرېږم. د خطرونو له پر غاړه اخیستو څخه وېرېږم، د نوو اړیکو له ټینګولو او په دغه نړۍ کې د مثبتو اغېزو له پرېښودو وېرېږم.»

پوهېږئ چې د هغه د وېرې لامل څه و؟ کېدای شي نوموړی یو وخت د دغه کارونو د تر سره کولو لپاره لاس پکار شوی وي، کېدای شي په ځلونو یې هڅه کړې وي، خو دا چې هر ځل له ماتې سره مخ شوی او دردېدلی دی، نور یې نه دي غوښتي څو د درد خوند وڅکي او په دې ترتیب یې له هیلو درلودلو او د ژوند د رښتیني مانا او مفهوم له لاسته راوړلو لاس اخیستی دی.

د دې ټولو پر ځای هڅه کوي څو د دې جملو په ویلو سره چې ګواکې ژوند هېڅ مانا او مفهوم نه لري، خپل ځان له درد او ځور څخه خلاص کړي. خو په خواشینۍ سره دا کار موږ د وېرې او درد له تر ټولو



خطرناک ډول سره مخ کوي، یانې له بې مانا او بې مفهومه ژوند څخه راپورته شوی درد او وېره. هېڅوک نشي کولای خپل هغه ژوند ته دوام ورکړي چې هېڅ مانا، مفهوم او موخه ونه لري.

لکه څنګه مې چې وویل، موږ د یو لامل له مخې نړۍ ته راغلي یو. کېدای شي وپوښتئ چې دا لامل څه دی؟ د دغه پوښتنې ځواب د هر انسان په اړه توپیر کوي. دې نړۍ ته زما د راتلو لامل له تاسو سره توپیر لري، خو په عین حال کې سره ورته هم دي. موږ ټولو چې پر دې نړۍ پل ایښی دی، بې کسه، یوازې او په بېل بېل ډول خلق شوي یو او زما په باور، خدای پاک موږ د یو لامل له مخې پیدا کړي یو. خدای پاک هېڅ شی له لامل او دلیل پرته نه پیدا کوي. هر هغه څه چې د ځمکې پر مخ شته، هرو مرو یو لامل او مفهوم لري.

تاسو ولې دې نړۍ ته راغلي یاست؟
د کوم کار د تر سره کولو لپاره په دې نړۍ کې یاست؟
پر څه باندې د بدلېدو لپاره، د څه شي د لاسته راوړلو لپاره او د څه شي د لاسه ورکولو لپاره؟
دا هغه څو اړینې پوښتنې دي چې باید ځوابونه ورته پیدا کړئ.

باوري یم چې د عمر په تېرېدو او د لا ډېرو تجربو په لاسته راوړلو سره او همدارنګه لوی رب او خپل دروني خلقت ته په نږدې کېدو سره کولای شی دغو پوښتنو ته تر ټولو غوره ځوابونه پیدا کړی.

زه غواړم له ژوند څخه هغه څه ستاسو په واک کې درکړم چې وړتیا یې لرئ او دا له هغه حقیقت څخه پوهه درلودل دي چې ستاسو تر ټولو کوچنی کار هم پایلې لري او د دغو پایلو مثبت او منفي والی په تاسو پورې اړه لري. هغه څه چې زموږ په ژوند کې تر ټولو اغېزناکې پایلې لري، همغه څه دي چې څو څو ځله مې ویلي دي؛ خو غواړم یو ځل بیا یې تکرار کړم: «هغه څه چې په پایله کې زموږ د ژوند بڼه بدلوي، زموږ پرېکړې او تصمیمونه دي.»

لومړنۍ سرنوشت جوړوونکې پرېکړه او تصمیم دا دی چې څه شی د خپل تمرکز په چوکاټ کې راولو؟ هر هغه څه چې زموږ تر فکر او تمرکز لاندې وي، زموږ د احساس او تفکر بنې، هغه کارونه چې سرته یې رسوو او په ټوله کې زموږ د ژوند کیفیت او غوره والي ته بدلون ورکوي. نو اړینه ده چې په هر حالت کې پر داسې موضوعاتو او مسایلو تمرکز او فکر وکړو چې تقویه کوونکې او انګېزه ښوونکې وي.

دویمه پرېکړه او تصمیم چې زموږ د ژوند مانا او موخې ته بدلون ورکوي، هغه پرېکړې دي چې د خپل ژوند د پېښو د مانا او مفهوم په اړه یې کوو. په اصل کې همدا موږ یو چې په خپل ژوند کې د پېښېدونکو ټولو ښو او بدو پېښو مانا او مفهوم ټاکو.

درېیمه پرېکړه او تصمیم د هغو کړنو او غبرګونونو په اړه دی چې د همدغه پېښو د رامنځ ته کېدو پر مهال یې تر سره کوو. ډېری هغه وېرې چې خلک په خپل ژوند کې ورسره مخ کېږي، له هغه ځایه سرچینه اخلي چې دوی فکر کوي چې ګواکې د وضع او حالت کنټرول یې له لاسه وتلی دی. موږ ټول هڅه کوو څو د خپل ژوند د حالاتو او پېښو کنټرول په لاس کې واخلو، خو هرڅومره هم چې وړ او غښتلي و اوسو، اړ یو څو له داسې پېښو سره مخ شو چې د پېښېدو واک او کنټرول یې زموږ په لاس کې نه وي او یا دا چې په دغو پېښو کې هېڅ لاس نه لرو، نه شو کولای چې د پېښېدو مخه یې ونیسو. دغه حالت ډېر کله هغه مهال منځ ته راځي چې زموږ په ژوند کې د پېښېدونکو پېښو په رامنځ ته کېدو کې بل څوک لاس ولري او یا هم په طبیعي ډول رامنځ ته شي.

## راپورونه: د علیپور ملېشو په میدان وردګو کې د پولیسو پوستې سقوط کړې، وسلې او مهات یې تري وړي

د ملېشه ځواکونو د قوماندان علیپور وسله والو د میدان وردګو په بهسودو کې د پولیسو پر دوو پوستو بریدونه کړي، پولیس یې بې وسلې کړي، دوه یې ټپیان کړي، یو ټپي پولیس، ۱۳ میله وسلې او یو هاموې ټانګ یې له ځان سره وړي دي.

د میدان وردګو د والي ویاند محب الله شریفزی وایي چې د علیپور نامسوولو وسله والو وړمه ورځ له غرمې وروسته د دغه ولایت د بهسودو په دویمې حصې ولسوالۍ کې د ملي پولیسو پر دوو پوستو بریدونه کړي دي.

هغه زیاتوي، د علیپور کسانو د یادو دواړو پوستو پولیس بې وسلې کړي او ډبولي دي، دوه پولیس یې ټپیان کړي او د غفور په نوم یو ټپي پولیس یې هم له ځان سره بېولی دی.

د نوموړي په خبره: «د علیپور غیر مسوولو وسله والو له یادو پوستو لس میله کلاشینکوفونه، دوه میله پیکا، یو میل اېم ۱۶ ټوپک، دوه نارنجک انداز او یو هاموې ټانک له ځان سره وړي دي.»



شریفزی وایي چې دوی دا موضوع بیا بیا له مرکزي حکومت سره شریکه کړې، خو په خبره یې، نوموړی د لوړپوړو چارواکو ملاتړ له ځانه سره لري او له همدې کبله یې په نیولو کې پاتې راغلي دي. دی زیاتوي، که مرکزي حکومت د علیپور د نیولو امر وکړي، دوی تیار دي چې دغه غیر مسوول وسله وال ونیسي او د قانون منګولو ته یې وسپاري.

علیپور چې د نامسوولو وسله والو په درلودو، په لارو کې د باج اخیستو او خلکو پر ځورونه تورن دی، د ۱۳۹۷ کال د لیندۍ په شلورمه امنیتي ځواکونو په کابل کې ونیو، خو د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش په ضمانت خوشي شو او ژمنه یې وکړه چې وسلې به یې ثبتوي او دولت ته به یې سپاري، خو تر اوسه دا کار نه دی شوی.

د میدان وردګو د ولایتي شورا غړی شریف الله هوتک هم وایي چې د غیر مسوولو وسله والو مشر علیپور غوښتل چې د ولسوالۍ امنیې قوماندانۍ ته په زور دننه شي او خپل هغه مجرم ملګری ازاد کړي چې څه موده وړاندې یې د پولیسو پر ګزمه برید کړی و او څو تنه پولیس ټپیان کړي وو. هوتک وایي چې په سیمه کې وضعیت اوس هم سم نه دی او د وسله والو له خوا د دویم برید هڅې روانې دي.

په ورته وخت کې د کورنیو چارو وزارت په میدان وردګو ولایت کې پر دولتي ځواکونو د علیپور د خپلسرو وسله والو د برید په اړه د څېړنو د پیل خبر ورکوي. د دغه وزارت ویاند طارق آرین وایي: «په اړه ارزونې روانې دي، شواهد راټولوو، څرګنده خبره ده چې داسې پېښې د اصولو او قانون خلاف دي، شواهد چې بشپړ شي، درسره شریک به یې کړو.»

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر اوومه | ۵۹۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۲ | ۳٤ | ۲۹ | ۳٥ | ۲۹ |
| ۱۴ | ۱۵ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۰۶ | لمر ختل ۰۵:۳۰ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۳:۲۸ | ماښام ۰۶:۱۳ | ماخوستن ۰۷:۳۹

## نړۍ



## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې له ۲۷ میلیونو او د مړو شمېر یې له ۸۸۴ زرو واوښت

۳

## راپورونه: په بېلاروس کې د لاریونونو او تاوتریخوالي پرمهال لسګونه کسان نیول شوي دي



د راپورونو له مخې، په بېلاروس کې لسګونه هغه محصلین چې د الکساندر لوکاشینکا د رژیم پر ضد یې لاریون کړی و، پولیسو نیولي دي. هغوی ټول چې شمېر یې زرګونو کسانو ته رسېده، د جمهوري ریاست په ټاکنو کې دالکساندر لوکاشینکا د بیا ټاکل کېدو سره د مخالفت څرګندولو لپاره د مېنسک ښار لارو او سرکونوته راوتلي وو. د راپورونو له مخې، محصلینو سره او سپین بیرغونه چې د لوکاشینکا د رژیم د مخالفانو په سمبول بدل شوي، لېږدول.

د یادونې ده چې په بېلاروس کې د اګسټ په نهمه د ولسمشرۍ ټاکنې وشوې، خو خلک له هغه راهیسې لاریونونه کوي او وايي چې په ټاکنو کې درغلي شوې ده. یو شمېر خبري رسنیو ویلي چې امنیتي ځواکونو لاریون کوونکي له لارو راګرځول او په موټرو کې یې اچول.

په ورته وخت کې د دغه هېواد جمهوري ریاست ته د اپوزیسیون کاندیدې سویتلانا څیخانوسکایا ویلي چې هېواد یې په ژور سیاسي بحران کې ښکېل دی او د الکساندر لوکاشینکا حکومت د خپلو خلکو غږ نه اوري. هغې ویلي چې بېلاروس بدل شوی او خلک یې بیدار شوي دي. د نوموړې په خبره، د الکساندر لوکاشینکا رژیم باید په دې وپوهېږي چې د بېلاروس خلک نور له خپله دریځه نه شاته کېږي. هغې تردې مخکې، د ملګرو ملتونو له سازمانه غوښتنه کړې چې د بېلاروس د لانجې د پای ته رسولو لپاره مرسته وکړي.

## روسیه: که ناټو له پارونکو اقداماتو ډډه ونه کړي، نظامي ځواب ته به اړ شو

د روسیې دفاع وزیر سرګي شویګو د ناټو د عمومي منشي ینس سټولټنبرګ وروستیو څرګندونو ته په غبرګون کې ویلي، چې روسیه نظامي جګړو ته د ننوتو لېواله نه ده، خو په خبره یې، ناټو یې په خپلو غیردوستانه کړنو نظامي ځواب ته اړباسي.

نوموړي دغه راز زیاته کړې، ناټو، روسیې ته وړاندیز کړی و چې د کرونا وبا د پراختیا د مخنیوي په موخه دې خپل نظامي تمرینات ودروي او دوی دا کار وکړ، خو بروکسل له دې چارې سره منفي برخورد کوي. نوموړي ناټو تورنه کړه چې هڅه کوي له روسیې سره د امریکا په څېر سړې جګړې ته داخله شي. شویګو د خپلو خبرو په دوام ویلي، د ناټو جاسوسي الوتکې د روسیې پولو ته څېرمه الوتنې کوي او په خبره یې، دا د دوی تر منځ د شویو هوکړو خلاف عمل دی.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ناټو او روسیې ترمنځ ناندرۍ یوځل بیا ډېرې شوې دي. د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ تېره ورځ په بروکسل کې د دغه تړون د سفیرانو تر یوې ځانګړې غونډې وروسته وویل چې ځینې جدي پوښتنې شته چې روسیه یې باید په اړه ځواب ووایي.

## خالد: طالبان با افزایش حمله‌ها بدنبال امتیازگیری در صلح استند



اسدالله خالد، نامزد وزیر دفاع ملی می‌گوید که طالبان در آستانهٔ آغاز مذاکرات میان افغانان، با افزایش حمله‌های شان در بخش‌هایی از کشور، بدنبال امتیازگیری در روند صلح استند. آقای خالد که دیروز به شهر مهترلام، مرکز ولایت لغمان، سفر کرده بود تأکید کرد با وجود گسترش دامنهٔ جنگ، هیچ بخش افغانستان سقوط نخواهد کرد.


او افزود: «متأسفانه که در جنگ کدام کاهش به‌میان نیامده و زیاد هم شده‌است و فشارهایی که در چند روز شما می‌بیینند شاید یک بخش همین برنامه باشد که دشمن می‌خواهد در مذاکره امتیاز بگیرد.»

منابع می‌گویند که قرار است مذاکرات میان افغانان تا چند روز دیگر در دوحه آغاز شوند؛ اما زمان مشخص آن تاکنون اعلام نشده‌است.

در همین حال، مقام‌های محلی لغمان می‌گویند که حمله‌های طالبان در بخش‌هایی از این ولایت بیشتر شده‌اند و نیاز است تا برای جلوگیری از خطر سقوط ولسوالی‌های این ولایت، تدابیر جدی روی دست گرفته شود. رحمت‌الله یارمل، والی لغمان گفت: «در این اواخر وضعیت امنیتی لغمان به خصوص دو ولسوالی علیشنگ و علینگار قابل قبول نیست و نگرانی این است که مبادا این ولسوالی‌ها سقوط کند و مشکلات بیشتر شود.» اما اسدالله خالد، اطمینان می‌دهد که در پی نبردهای اخیر طالبان هیچ بخشی در کشور سقوط نخواهد کرد: «اطمینان می‌دهیم که هیچ بخش افغانستان سقوط نمی‌کند و این از لاف تکبر نیست و این حقانیت الله و بر پشتیبانی شما است و به سربازان باور داریم.»


## ژونـــد

## له کوره کار؛ لیکنې او ژباړې وکړئ



لیکنې او ژباړې کول د پیسو د لاسته راوړلو لپاره تر ټولو ښه لاره ده. زرګونه لیکوالان او ژباړونکي د ورځې د سفر، آشپزۍ، د ماشوم روزلو، هنر، د ژوند لارو چارو او نورو په اړه لیکنې او ژباړې کوي. دا هم ډېر سخت کار نه دی. تاسو په هر ځای او هر وخت کې دغه کار کولی شی. له خدمت او شهرت سره سره به مو یو څه پیسې هم ګټلې وي. که د ژباړې په برخه کې پوره وړتیا لری، د هېواد له مشهورو کتابتونونو او خپرندویه ټولنو سره په اړیکه کې شئ، د خپل کار نمونې مو ورته وښایاست او د ژباړې یا اېډېټ لپاره ترې کتابونه او نور معلومات واخلئ. دغه راز د ژباړې ځینې رسمي مرکزونه هم شته چې په دې برخه کې کار کوونکو ته اړتیا لري. سر ور ښکاره کړئ او په دې برخه کې د خپلې وړتیا ورته ووایاست او خپلې کاري نمونې ور ښکاره کړئ. دا کار دوې ښېګڼې لري: یو دا چې له مالي اړخه به پر ځان بسیا شی او بل دا چې په اړونده برخه کې به مو وړتیا او تجربه زیاته شي.

## د فېسبوک له نوې بڼې استفاده وکړئ!




یو کال وړاندې مارک زکربرګ د فېسبوک نوې بڼه کاروونکو ته وښودله، چې کاروونکي کولی شي د فېسبوک پخوانۍ بڼې پر ځای، چې کلاسیکه بلل کېږي، دغه نوې بڼه وکاروي. که څه هم د ډسکټاپ لپاره د فېسبوک نوې بڼې معرفي کېدو کال پوره کېږي، خو تر اوسه پورې دا د کاروونکو خوښه وه چې نوې او که پخوانۍ بڼه کاروي. خو اوس دغې کمپنۍ اعلان کړی چې کېدای شي سپټمبر کې د فېسبوک کلاسیک بڼه چې بلوتیم هم بلل کېږي، د تل لپاره له منځه یوړل شي او یوازې نوې بڼه پاتې شي. په دغه نوې بڼه کې د ډارک موډ اسانتیا هم ورکړل شوې ده. نوی ډیزاین تر ډېره د فېسبوک کاریال ته ورته دی او کمپنۍ ادعا کوي چې په مرسته یې کاروونکي په اسانۍ سره د خپلې خوښې وېډیوګانې، ګیمونه او ګروپونه لټولی شي او وېب پاڼې کې به د اسماني پر ځای سپین رنګ وکارول شي. له دغه نوي ډیزاین سره به د فېسبوک وېب پاڼه د پخوا په پرتله په چټکۍ سره پرانیستل شي.

د (ATM) یا صرافي خپلکاره ماشینونو کارت لرونکو ته د پیسو اخېستلو اسانتیا

د افغانستان د تادیاتو سیستم (Afghanistan Payment System) د فعالیت له پراختیا سره، د ټولو دولتي او خصوصي بانکونو پیرودونکي چې له دغه سیستم سره تړلی وي، کولی شي په مرکز او ولایتونو کې د عزیزي بانک د ټولو خپلکاره صرافي ماشینونو(ATM) څخه په 24 ساعته توګه پیسې ترلاسه کړي.
همدارنګه د عزیزي بانک محترم پیرودونکي کولی شي د خپلو ATM کارتونو څخه په ګټنې له ټولو هغو دولتي او خصوصي بانکونو پیسې ترلاسه کړي چې له دغه سیستم سره نښلول شوي دي.
عزیزي بانک له نوې ټکنالوژۍ سره جوخت خپلو پیرودونکو ته د غوره چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ژمن دی.

www.azizibank.af
1515




عزیزي بانک
Azizi Bank